www.xtrapapers.com

M12/1/A1PAS/SP1/PUS/TZ0/XX

22120219

International Baccalaureate®
Baccalauréat International
Bachillerato Internacional

**PASHTO A1 – STANDARD LEVEL – PAPER 1**
**PACHTO A1 – NIVEAU MOYEN – ÉPREUVE 1**
**PASHTU A1 – NIVEL MEDIO – PRUEBA 1**

Thursday 10 May 2012 (morning)
Jeudi 10 mai 2012 (matin)
Jueves 10 de mayo de 2012 (mañana)

1 hour 30 minutes / 1 heure 30 minutes / 1 hora 30 minutos

---

INSTRUCTIONS TO CANDIDATES

- Do not open this examination paper until instructed to do so.
- Write a commentary on one passage only. It is not compulsory for you to respond directly to the guiding questions provided. However, you may use them if you wish.
- The maximum mark for this examination paper is *[25 marks]*.

INSTRUCTIONS DESTINÉES AUX CANDIDATS

- N'ouvrez pas cette épreuve avant d'y être autorisé(e).
- Rédigez un commentaire sur un seul des passages. Le commentaire ne doit pas nécessairement répondre aux questions d'orientation fournies. Vous pouvez toutefois les utiliser si vous le désirez.
- Le nombre maximum de points pour cette épreuve d'examen est *[25 points]*.

INSTRUCCIONES PARA LOS ALUMNOS

- No abra esta prueba hasta que se lo autoricen.
- Escriba un comentario sobre un solo fragmento. No es obligatorio responder directamente a las preguntas que se ofrecen a modo de guía. Sin embargo, puede usarlas si lo desea.
- La puntuación máxima para esta prueba de examen es *[25 puntos]*.


© International Baccalaureate Organization 2012

www.xtrapapers.com



د لا ندي دوو متنونو څخه پر يوه يې تبصره وکړئ:

.1

## مات وزر

د سپينږيری عبدالحليم کاکا وړوکي باغچه په ټول کلي کښي څه چي په ټوله سيمه کښي بې جوړې وه او په بڼ کښي د بېلا بېلو مېوه لرونکو او بې مېوې ونو تر څنګ ټول هغه څه موجود و، چي يو شاعرانه ذوق يې د ليدلو له پاره خوښېږي. سربېره پر دې چي په بڼ کښي د کلي د نورو باغچو نه هر ډول ګلان راوړل شوي، دغه سپينږيري باغوان د ډېرو غرنيو ګلونو نموني هم له غره راکوزې کړې او په خپله باغچه کښي يې ځای ورکړی و.

بلبلان هم په دغه باغچه مين و او له نورو بڼونو به يې دلته ډېر شور جوړ کړی و او سپينږيری عبدالحليم چي به کله تر سيوري لاندي کښېناستی نو د دغه مرغانو له شور او چغار به يې يو ډول عجيب خوند اخيسته، داسي به ور ته ښکارېده لکه په ځواني کښي چي به د خپل کلي د ساز مجلسونو ته ناست و او په ساز کښي به يې زړه مستی اخيستی و. دی اوس هم په دې ښه پوهېده چي د مرغانو يې باغچه خوښه ده. ددې وړوکي بڼ د لښتيو اوبه چي له غرونو اول ددې بڼ وړوکي پټي اوبوي او بيا نورو بڼونو ته ورځي، ولي به يې نه خوښول؟ ددې بڼ هر څانګه ده په خپلو ګوتو سمه کړې وه، بې ځايه غځېدو او ياغي کېدو ته يې نه پرېښوده، لمونځونه او دعاګاني يې په کښي کړې وې او دا منظره په هغه وخت لا ډېره ښکلې شوه چي غوټۍ به يې څنګ ته راغله. يوه عمر خوړلی بوډا به چي د بڼ له پروانو او پتنګانو سره غوټۍ په لوبو او شور وليده نو له سترګو به يې اوښکي وڅڅېدې او د غوټۍ چي به ورته پام شو، نو په وړوکي او مانادار غږ به يې ترې وپوښتل.

– بابا! بيا دې سر درد کوي؟ په مور پسي مې ژاړې؟ تا خو ويل هغه تللي باغچې ته ګلان راوړي. سپين ږيري به زر اوښکي پاکي کړې او له څانګې به يې کومه مېوه غوټۍ ته راوشکوله او د خبرې لوری به يې بدل کړ او له خپلې يوازنۍ لمسۍ سره به د ماشوم غوندي په لوبو بوخت شو.

[...]

کله به چي ماښام شو او مرغان به ټول غلي شول، نو په تياره کښي به يوې سپيني کوترې ته ورته مرغۍ به هم ددوی جونګړې ته راننوته او پاس به يوه راوتلي لرګي به کېناسته، لږ آواز به يې وکړ په انګړ کښي به يې بوډا او په غېږ کښي پرتې ماشومې ته وکتل او بيا به يې سترګي پټي کړې. مرغۍ له دوی څخه وېره نه لرله، لکه بل ځای چي يې شپه نه تېرېږي بوډا هم څه نه ورته ويل حتی ډېر ځله به که هغه نه وه راغلي نو بوډا به له کرکۍ د باندي ورپسي کتل خو په توره تياره کښي به ور ته ولاړې شني څانګي معلومېدې چي شمال خوځولي او شور به يې جوړ کړ. څو شپې پس به د وزرونوشور شو او يوې مرغۍ به ستړې ستومانه له کړکۍ د ننه راټوپ کړل، بيا به نو تر سهاره جونګړه وه او د خدای (ج) دغه درې مخلوقات.

يوه ورځ لا مازديګر نه و چي په آسمان تورې اوريځې راغلي. بوډا په تندی لاس کېښود آسمان ته يې وکتل، هغه ته دومره تجربه شوې وه چي که له ډېر تاوده لمر وروسته سپيني اوريځې ناڅاپه راغوندي شي او تور رنګ غوره کړي، نو سخته ږلۍ يا توپان راځي او اوس هم اوريځې هماغه ډول وې. هغه يوه شو چي کوم توپان يا باران ته ورته ږلۍ را روانه ده او په زړه کښي يې وېره تېره شوه، غوټۍ يې د ګلانو د څو بوټو له مينځه راواوچته کړه، جونګړې ته يې ورسوله د جونګړې په سر يې يو پلاستيک هم خپور کړ او بيا د بڼ ځني لښتي سم کړل چي هسې نه اوبه په کښي ډنډ نه شي، د دېوالونو د بېخ ناغولونه يې هم وکتل او بيا ځني تنکي څانګې سره وتړلې چي باد يې ماتې نه کړي.

www.xtrapapers.com



اوريځي نوري هم سره راغونډېدي او په دې بڼ کښې د مرغانو شور زياتېده، خو د ماښام د تيارو په خپرېدو د زورور توپان لومړی ځپې په بڼ ولګېدې، ونې يې راکړې کړې، تالنده او برېښنا هم ورسره ملګرې شوه. بوډا او ماشومه غوټۍ د جونګړې په کونج کښې غلي ناست وو، هغه سپينې مرغۍ ته يې هم پام نه و.

نيمه شپه توپان دومره تيز شو، چې بوډا د ځانګو څه چې د لويو ونو د ماتېدو آوازونه هم په خپلو غوږونو واورېدل، د پاڼو شغار د مرغانو په ځالو کښې د مرغۍ د بچيانو چغ او چوغ ښه سم اورېدل کېده او د بوډا زړه له درده ډکېده.

کله چې د سهار رڼا خپرېده نو په بڼ کښې يوه ولاړه ونه هم نه وه، بوټي يو پر بل پراته وو، لښتي اوبو وړي وو، د جونګړې نيمايي برخه لوېدلي وه، اوبه ورننوتي وې. بوډا پاڅېده، د تخمونو يوه کڅوړه يې اوچته کړه او د جونګړې يو څه کالي يې ها خوا وغورځول. يوې سپينې مرغۍ منډه کړه، په هوا شوه، خو وزر يې ورسره ياري ونه کړه، راوغورځېده، بيا اوچته شوه او بيا وغورځېده او دريم ځل د زړه په زور په هوا شوه، والوته او په هوا کښې د بوډا له سترګو پناه شوه. بوډا سترګې وموښلې. ماشومې غوټۍ يوه لمده ښکه را اوچته کړه او بابا ته يې وکتل.

– بابا، دا يې مونږ ته پرېښې؟

بوډا ښکه را اوچته کړه، ور ته يې وکتل په وينو سره وه. ښکل يې کړه او بيا يې هوا ته پسې وکتل، هيڅ په نظر ورنه غلل. په ټوله هوا کښې هماغه مرغۍ ته ورته بې رنګه شکلونه ګرځېدل. په بڼ کښې هم شور ماشور غلی وو.

ګل رحمن رحماني. مات وزر، مرسل. مجله. شماره ۴۰۰، ۲۹ جنوری ۲۰۱۱، ۱۹-۱۸ مخونه

– دا تشريح کړئ چې په دې ليکنه کښې لوستونکوته د ليکوال پيغام څه دئ او هغه خپل پيغام لوستونکوته څنګه رسولی دئ.

– غور وکړئ چې آيا ددې داستان لپاره ټاکل شوی عنوان ددې له مضمون سره مطابق دئ؟

– په داستان کښې ترسيم شوي د باغوان، دده لمسۍ او د مرغۍ پر سيماګانو باندې تبصره وکړئ.

– په دې نثر کښې کارول شوي هغو ادبي صنايعو په اړه تبصره وکړئ چې لوستونکو ته يې د داستان په احساساتي توګه د ادراک کولو زمينه برابره کړې ده.

www.xtrapapers.com



.2

ښه هغه چه ښه يې رنګ ښه يې جمال دی،
ښه هغه چه په قوت د هر چا سيال دی.

ښه هغه چه په ميراث خاني ميري کا،
فراغت بې غمه ناست صاحب اقبال دی.

ښه هغه چه که احمق وي که جاهل وي
په طالع په تخت صاحب د ملک و مال دی.

ښه هغه چه په رشوت قاضی ګري کا،
په مسند د قضا ناست په قيل و قال دی.

ښه هغه چه ډېر لښکر ورپسي درومی
ډېر يې کبر ډېر يې جاه ډېر يې جلال دی.

ښه هغه چه په مجلس د ملوک ناست وی
تمامی عمر يې زيست روزګار تيتال دی.

په عالم کښې بدی نشته واړه ښه دی،
چه وبدو وَ ته روغ دی يو خوشحال دی.

کليات خوشحال خان خټک، دوست محمد خان کامل مهمند، پېښور، ۱۹۶۰، ۴۳۱ مخ

– د هغو مېتودونو په هکله، چې شاعر په خپله ليکنه کښې د لوستونکو د غبرګون د راپارولو دپاره کارولي دي، څه ويلای شئ؟

– دا تشريح کړئ، چې لوستونکوته د اثر د پيغام په رسولو کښې د شعر جوړښت له شاعر سره څرنګه مرسته کړې ده؟

– د شعر د ژبې پر هغو ځانګړتياوو باندي تبصره وکړئ چې په شعر کښې د مختلفو کسانو د تصوير دپاره کارول شوي دي.

– په شعر کښې کارول شوي ادبی صنايع تشريح کړئ.